مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست
۲۰۲۴/۰۹/۰۶

# د نورستان ننداره

## پنځمه‌برخه



**د سرشاره طبیعي منابعو لرونکي خو وروسته پاتي سیمه:**

نورستان له طبیعي زیرمو مالمال ولایت دی. نورستان د اوبو سیمه ده، د نښترو سیمه ده، د ځارویو لپاره د څرځایونو سیمه ده او د قیمتي ډبرو د کانونو سیمه ده؛ خو له دومره ډیرو سر شاره منابعو سره سره، بیا هم دغه د لږ نفوس لرونکي سیمه بې وسه او بېوزلې ده.

د نورستان د قیمتي ډبرو کانونه له کابو نیمي پیړۍ راهیسي کیندل کیږي(اوس دقیق نه یم خبر) دغه کیندني غیر فني او خپلسري دي. د نورستان د غرونو سیني یې په برقي برمو سورۍ سورۍ کړې. په چاودنو یې د قیمتي کانو نازک زړونه وچول او...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

غیر فني کیندنو زمور د وطن دې قیمتي شتمنی ته ډیر زیات زیانونه واړول؛ د ځو غمیو د ترلاسه کولو لپاره په لسګونو نور د اور خوراک شول. که تاسو د نورستان د کانونو په اړه د کان ویستونکیو نکلونه واورئ، زړونه به مو اره اره شي. د وی په وینا؛ چاودني به وشوې، غر به ولړزیده، ځیني قیمتي کاني به لاس ته راغلل او ځیني نور به ټوټه شول.

د نورستان غمي ډیر مشهور دي، پردي بازارونه پرې ښایسته دي او د نورو د حسینو ښکلا یې څو چنده زیاته کړې ده. د چا په سپینو او نریو غاړو کې ټالونه وهي، د چا په ګوتو کې پرکیږي او د چا... خو خپله د نورستان د خلکو لاسونه په ډیر کار کولو تناکي او چاودلي دي. د دغي قیمتي خزانې ګټه د محدودو کسانو جیبونو ته ځي.

دلته په ګڼو سیمو کې میرمني د زراعت درانده کارونه مخکې وړي. دوی په کمزورو بدنونو د کور د سنبالښت تر څنګ، د کروندو کارونه هم کوي، د څارویو پالنه هم کوي او آن له غرونو لرګي هم راوړي. شاید دا اوس په یوه عادت بدل شوي وي؛ خو منشاء یې مجبوریت دی. کنه د هر چا زړه غواړي چې ارام او اسوده ژوند وکړي.

که د نورستان کانونه په فني توګه د وطني متخصصو شرکتونو له خوا تر ټینګې څارنې لاندې استخراج کیدلای، همدلته پروسس کیدلای او د عایداتو لوړه برخه یې د همدې ولایت پرمختیایي کارونو ته وقف کیدلای، نن به دا سیمه دویم سویزرلنډ و؛ خو دریغا...

موږ چې کوم کلي کې شپه سبا کړه، مانده نومیده. دې کلي ته مخامخ غر په نښترو پوښلی دی او په یوه ننداره یې ټوله ذهني ستړیا کډه کوي. دا کلی که څه هم د سیند په غاړه پروت دی؛ خو نه یې زمکې د اوبخور منظم او عصري سیستم لري او نه یې خلک منظمه برېښنا لري. دلته چې کوم کارونه شوي، ډیری د سیمه ییزې شورا لخوا شوي دي. ځایي خلک شورا ته خپله ونډه پیسې ورکوي او بیا په هماغو پیسو عام المنفعه کارونه کیږي.

دا شورا ډېره فعاله ده، د همدې د فعالیت برکت ده چې په دې سیمه کې،د ځایي خلکو په وینا، په مخدره موادو روږدي کسان نشته.

حتا، له ډیرو کلونو راهیسې د نورستان په مرکز (پارون) کې آن د سګرټو په پلور بندیز دی، دا ناولي توکي ځیني سیلانیان له ځان سره ور وړي او معطره فضاء زهري کوي.

د سګرټو بندیز که له یوې خوا ځوانان د نورو نشه یي موادو له روږدیدا ژغورلي، له بلې خوا یې دغه ځنګل زاره سیمه د اورلګیدو له احتمالي خطرونو هم خوندي کړې ده. هیله ده په سګریټو روږدي سیلانیان هم د دې ناسم عمل د اجرا کولو په مهال محتاط اوسي او د اور لګیدنې لامل نشي.

د نورستان پر سیند ځای، ځای د لرګیو پلونه تیر شوي دي. ځیني ځایونو کې خو کیبلي زانګوګاني جوړې شوي او خلک د سیند د تیریدو په مهال له همدې ویرونکي طریقې استفاده کوي؛ داسي چې په پړي کې تړل شوې کوچنی زانګو ته وخیژي، بل پړی کش کوي او بیا ورو- ورو له سینده پورې وځي.

هیله ده دا ملي پارک، دا د ښایستونو سیمه او دا د جنتي هوا لرونکي علاقې پرمختګ او د عامه المنفعه تاسیساتو جوړولو ته یې پوره پوره پاملرنه وشي.

۱۴۰۳ /۱۶/ وږی

نور بیا...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ